# دټاکنو د نړيوالي څارنې (مشاهد ) لپاره د اصولو اعلاميه

# او

# د ټاکنو د نړيوالو څارونکو (مشاهدينو) لپاره د چلند اصول

# دټاکنو د نړيوالې څارنې (مشاهدې) لپاره د اصولو اعلاميه

# او

# د ټاکنو د نړيوالو څارونکو (مشاهدينو) لپاره د چلند اصول

**د 2005 کال د اکتوبر 24 نيټې څخه لاسليک کوونکي (موافقه کوونکي) سازمانونه :**

د افريقا اتحاديه

د ټاکنو لپاره د اسيا آزاده شبکه (ANFREL)

د کارټر مرکز (The Carter Center)

د ټاکنو د پرمختګ او مرستې مرکز (CAPEL)

د مشترک المنافع دارالانشاء (CS)

د اروپايي کميسون شورا د قانون په مټ د ډموکراسۍ لپاره د اروپا کميسيون(Venice Commission)

د اروپا شورا – پارلماني اسمبله

د سهيلي افريقا ټاکنيز انستيټيوت (EISA)

آروپايي کميسون

د ټاکنو د نظارت د سازمانونو اروپايي شبکه (ENEMO)

IFES

International IDEA

Inter-Parliamentary Union

نړيوال جمهوري غوښتونکی انستيټيوت (IRI)

د ملي ډموکراتيک انستيټيوت (NDI)

د امريکايي ايالاتو سازمان (OAS)

په اروپا کې د امنیت او همکارۍ لپاره سازمان، د ډموکراتیک انستیتیوتونو او د بشر د حقوقو دفتر

د آرام سمندر، استرلیا او نیوزلنډ د ټاکنو د تنظیم کوونکو ټولنه (PIANZEA)

د آرام سمندر مجمع

د ملګرو ملتونو دارالانشاء

د امریکا د متحده آیالاتو د پخواني کانګرس ټولنه (USAFMC)

دا اعلامیه او ورسره دټاکنو د نړیوالو مشاهدینو د چلند اصول د نورو دولتي او نادولتي سازمانونو د موافقې او لاسلیک لپاره پرانیستي دي. موافقه او لاسلیک باید د ټاکنو سره د ملګرو ملتونو د مرستې د څانګې (UNEAD) سره ثبت کړل شي.

# د ټاکنو د نړیوالې څارنې لپاره د اصولو علامیه

2005 کال اکتوبر 27

رښتني ديموکراتيکې ټاکني د يووالي هغه بيان دی چې د يو هيواد په خلکو پورې اړه لري. هغه خلک چې د هغوی خپلواک اظهار دولت ته د واک او مشروعيت اساس وربښي. د وګړو هغه حقوق چې دوی کولای شي چې رايه ورکړي او دوی په يو لنډ مهاله، رښتني او ديموکراتيکه توګه وټاکل شي، نړيوال پيژندل شوي حقونه دي. رښتنې ديموکراتيکې ټاکنې په يو ملک کې د قوتونو تر منځ د ساسي سياليو د سوليزه حل کولو په اړه کار کوي نو له دې امله د صلح او ټيکاو لپاره ډيرې اړينې دي. په هغه ځايونو کې چې دولتونه د ريښتينو ديموکراتيکو ټاکنو له لارې مشروعيت ترلاسو کوي، د اقتدار پر لار غير ديموکراتيکې ننګونې را کميږي .

ريښتينې ديموکراتيکې ټاکنې د ديموکراتيک حکومت کولو لپاره يو اړين شرط دی، ځکه چې دا ټاکنې هغه څه دي چې د هغې له لارې خلک خپله اراده په آزاده توګه د هغه څه پر بنسټ چې قانون منځ ته راوړي، بيانوي او دا پريکړه وکوي چې څوک د دوی په استازيتوب او د دوی د ګټو سره سم حکومت وکړي. د ړيښتينو ديموکراتيکو ټاکنو ترسره کول د پراخه بهيرونو او د يو ديموکراتيکې حکومتدارۍ جوړول دي بناً په هغو حالاتو کې چې د ټاکنو پروسې د ريښتينو ديموکراتيکو ټاکنو لپاره جهاني اصول منعکس کوي، هيځ ټاکنې نشي کيدالای چې د سياسي، کلتوري او تاريخي مفهوم څخه خالي وي.

ترهغه وخته پورې چې يو ډير شميرنور بشری حقونه او بنيادي خپلواکۍ په دوامداره توګه، بيله کوم توکميز توپير چې د توکم، رنګ، جنس، ژبې، مذهب، سياسي عقيدې او يا کوم بل نظر، ملی يا اجتماعي اصل، فقر، زيګون او يا نور حالات لکه معيوبيت او بيله اختياري او غير منطقي بنديزونو څخه پلې نشي، ريښتني ديموکراتيکې ټاکنې نشي تر لاسه کيدای. دغه ياد شوي حقونه لکه د نورو بشري حقونو او ديموکراسۍ په څير د قانون د پلي کيدو څخه پرته نشي ترلاسه کيدلای. دغه مفاهيم د بشر د حقوقو له خواه، نورو نړيوالو اسنادو او يو ډير شمير دولتي موسساتو له خواه په رسميت پيژندل شوي.
د ريښتينو ديموکراتيکو ټاکنو ترسره کول له دې امله چې دې ملی موسسو، سياسی سيالانو، وګړو او د هغوی د مدني موسساتو د انديښنې وړ موضوع ده، د نړيوالو موسسو پام ځان ته را اړوي.

د ټاکنو نړيواله څارنه د نړيوالې ټولني علاقه د ديموکراتيکو ټاکنو د ترلاسه کولو په اړه څرګندوي چې د ديموکراتيکې پرمختيا او بشري حقونو ته د احترام يوه برخه ده. د ټاکنو نړيواله څارنه چې پر مدني او سياسي حقونو تمرکز کوي، د بشر دحقونو د نړيولې څارنې يو برخه د ه چې بايد د هغه لوړو ستندردنو پر بنسټ چې د ملی سياسي سيالانو په اړه دي پلي شي او له هر ډول دوه اړخيز او څو اړخيزو ملاحظاتو څخه چې د بې اړخي سره په ټکر کې راځي مبری وي. د ټاکنو نريواله څارنه د ټاکنو بهيرونه د نړيوالو اصولو او کورني قانو سره سم د ريښنينو ديموکراتو ټاکنو لپاره ارزوي او په دې پوهيږي چې په پای کې د يو ملک خلک دي چې د ټاکنو د بهير اعتبار او مشروعيت ټاکې.

د ټاکنو نريواله څارنه دا توان لري چې د درغليو او بی نظميو د منع او را سربيره کولو له لارې او د ټاکنيزو بهيرونو د اصلاح په خاطر د نظرياتو په وړاندې کولو سره د ټاکنو بهيرونه تقويه کړي. عامه ډاډ زياتولاشي، په ټاکنو کې د ګډون کچه لوړي او په ټاکنو پورې د اړوند اخوډب توان را کموي. همدارنګه د نړيوال پوهاوي د کچې د لوړيدو لپاره د ديموکراتيکو ټاکنو په اړه د معلوماتو او تجروبو د شريکولو له امله د ارزښت وړ ده.

د ټاکنو نړيواله څارنه په ټوله نړی کې په پراخه توګه منل شوي او د ټاکنو د بهيرونو د ځرنګوالي په اړه د يوه کره او بې اړخه ارزونې په برابرولو کې ارزښتمند رول لوبوي. د تاکنو نريواله دقيقه او بې اړخه څارنه

د اعتبار وړ میتودولوژۍ او د ملي چارواکو، ملي سیاسي رقیبانو،( سیاسي ډلې، نوماندان او د ټول پوښتنو له لاري د مقامونو حمایت کونکي ) ، له ټاکنو څخه د څارنې کورني ټولني، اود اعتماد وړ داسي نورو نړیوالي موسسو سره چي ټاکنو څارنه کوي د همکاري ضرورت لري.

هغه دولتي او غیر دولتي ټولني چي د دغي اعلامیي او د هغي سره مل د ټاکنو د نړیواولو څارونکو لپاره د چلند د اصول تصدیق کوي، په ګډه سره اعلان کوي:

1. ريښتيني ديموكراتيكي ټاكني د يووالي هغه بيان دی چي د يو هيواد په وګړو پوري اړه لري. هغه خلك چي د هغوی خپلواك اظهار دولت ته د واک او مشروعیت اساس وربښي. د وګړو هغه حقوق چي دوی کولای شي چي رايه ورکړي او دوی په يو لندمهاله، ربښتني او ديموکراتيکه توګه وټاکل شي، نړيوال پيژندل شوي حقونه دي. ربښتني ديموکراتيکي ټاکني د صلح او ټيکاو لپاره کار کوي او ديموکراتيک حکومت ته قيموميت وربښي.

2. د بشر د حقونو نړيوالي اعلاميي، د سياسي او مدني حقونو د نړيوال ميثاق او نورو نړيوالو اسنادو سره سم، هر څوک دا حق لري چي دوی ته د خپل هيواد په دولتي او عامه چاور کي ، بيله کوم هغه توپير نه چي د بشر د حقونو د نړيوالو اصولو له خواه منع شوي او بيله کوم منطقي بنديز څخه د ګډون زمينه مساعد شي. دغه حق کيدلای شي چي په نيغه توګه په ټول پښتنو کي د ګډون له لاري، کومي اداري ته د نوماند کېدولو له لارې، يا په کوم بل ډول اويا هم د هغه استازو له لاري چي په آزاده توګه خوښ شوي وي، په كار يوړلی شي.

3. د يو هيواد د خلكو اراده د دولت د واک بنسټ دی او دغه اراده بايد د هغو ريښتينو متناوب ټاكنو له لاري وټاکل شي چي په آزاده توګه د رايي ورکوني او په سمه توکه د ټاکل کيدو د حق او فرصت تضمين د رايي ورکوني د عمومي او مساويانه حق ، د سريع رايي ورکوني او يا هم د انډول رايي وکولو د کړنلارو له لارې، چي د هغو پايلي په دقيق توګه شميرل کيږي، اعلانيږی او منل کيږي، کوي. بنا ريښتينو ټاکنو ته د لاسترسي په موخه يو ډير شمير حقونه، آزادی، بهيرونه، قوانين، حقوقي اصول كار كوي.

4. د ټاکنو نړيواله څارنه عبارت ده له: د قوانينو، بهيرونو، حقوقي اصولو په رابطه د هغو معلوماتو سيستوميکه، جامع او کره ټولونه ، چي ټاکنو د ترسره کولو په اړه دي او د هغو نورو عواملو چي دې ټاکنو د چاپريال په اړه دي؛ د دغه ډول معلوماتو بی اړخه و مسلکي شننه؛ او د معلوماتو د صحت او د تحليل د بي اړخئ د لوړو ستندردنو په رڼا كي د ټاكنو د بهير د پايلو په هكله پريكړه كول. په هغه حالاتو کي چي ممکنه وي، د ټاکنو نړيواله څارنه بايد د ټاکنو د بهير او پر هغي پوري د اړوندو بيهرونو د موثريت او يولاسی د پرمختګ لپاره بايد وراندیزونه ولري چي دغه وړانديزونه يوله بل سره بايد په ټکر كي نوي او د دغه بهيرونو د پرمختګ پر لار غند نشي. د ټاکنو د نړيوالي څارني ماموريتونه عبارت دی له: د دولتي، نړيوالو غير دولتي موسساتو او اتحاديو منظمي هڅې، د ټاکنو د نړيوالي څارني د ترسره كولو په موخه.

5. د ټاکنو نړيواله څارنه د ټاکنو څخه د مخه ، د ټاکنوپه ورځ او د ټاکنو څخه وروسته پړاونو کي د پراخ، اوږده مهاله څارني، او د راز راز طريقو په پلې كولو سره څيري. ددی هڅو په جمله کی دڅارنې ځانګړي استازي شايد چي د ټاكنو څخه د مخه او وروسته محدودي موضوع ګانی او مخصوصي پروسي لکه ( د ټاکنو د سيمو د حدودو ټاکنه، د رايه ورکونکو ثبتونه، د بريښنائي ټکنالوژۍ څخه استفاده او د ټاکنو څخه د شکايت کولو د طريقوفعاليت) وآزمايي. د څارني خو کفا او ځانګړي ماموريتونه تر هغه پوري چي ددوی فعاليت او پريکړي د خلکو له خواه د يو واضيح بيان له لاري د

ټاکنو د مکمل بهیر په نتیجه ګیرئ لپاره محدود و ګنړ شي ،کیدلای شی چی وګمارل شی. ټول څارونوکي استازي باید خپل پام د ټاکنو ورځې ته واړوي نه دا چی د ټاکني د ورځ پر څارنه باندی له حده ډیر تاکید وشی. د ټاکنو نړیواله څارنه هغه حالات چې د رای ورکولو د حق او د ټاکل کیدلو د حق پر لاره خنډ ګرځي، لکه توکمیز توپیر او نور خنډونه تر څارني لاندې نیسي او هغه عوامل چې د سیاسی او او نورو مفکورو ، جنسیت، نژاد، رنګ، ملیت، ژبې، دین، ملی او یا ټولنیز سرچینه، ملکیت، زیګون او نور حالات لکه معیوبیت پر پنسټ په ټاکنو کی د ګدون مخنیوی تر پلټنو لاندی راولي. د ټاکنود نړیوال څارنی .

6. د ټاکنو نړیواله څارنه د مطلوب هیواد د خلکود ګټو او د نړیوالي ټو لنې د ګټو د پاره په لار اچول کیږی. د ټاکنو پایلوته د ټاکنو د بهیر پر پرتله ډیر اهمیت ورکول کیږی، او یوازی هغه پایلو سره اړه لري چې د کره او صادقانه ریوټونوله لاري، په شفافیت او خپل وخت سره تر لاسه شوی وی. تر څو پوری چې یو شخص د د سیاسی ، اقتصادی او نور تضادونو څخه چی په بې اړخه او کره څارني له ترسره کولو سره په ټکر کې وي او یا د ټاکنو د بهیر د په کره او بې اړخه پایلو په بڼه کې د تغیر سبب کیدای شی خلاص نه وی، نشي کولای چې د ټاکنو د نړیوالي څارني د ماموریت غړی شي. دغه معیارونه باید په موثره توګه او د اوږدی مودی لپاره د اوږد مهاله کتونکو لخوا او همدا رنګه د ټاکنو د ورځی د څارني په محدود پړاو کې، چی هر پړاو ئې د بې اړخه او آزاد تحلیل لپاره یوه ننګونه ده په نظر کې ونیول شي. د ټاکنو د نړیوالي څارني استازې باید د هغه هیوادنو د دولت څخه چې ټاکني یې څارل کیږی هیڅ مالی او بنسټیز مرسته ترلاسه نه کړی، ځکه چې دغه عمل ممکن د منافعو سره به ټکر کې راشي او د ماموریت د موندنو په سپیڅلتیا کې د اعتبار د کمولو سبب و ګرځي. د ټاکنو د څارني نړیوال هیات د وړ او معقولو غوښتونو په صورت کې باید خپل د تمویل سرچینه روښانه کړي.

7. د ټاکنو د نړیوالي څارني له پلاوي څخه تمه کیږي چې خلکو ته کره، په وخت برابر او بې اړخه معلومات (همدا راز د ټاکنو مسولینو او نور وړ ملي نهادونو ته ددغه معلوماتو کاپئ ورکول) چې ددوی موندني او نتیجې وړاندې کوی او هغه مناسب سپارښتني چی دوی فکر کوی د ټاکنو د بهیرونو د سمولو لپاره ګټور دي، ورکړی. استازي باید په هیواد کې خپل شتون، د خپل ماموریت قیمومیت، جوړښت اود کار موده عامه ډول اعلان کړي، لکه څنګه چې ژمنه شوې ده، دوی باید دوره ئي راپور جوړ کړي او د ټاکنو څخه وروسته د خپل موندنو په هکله مقدما تي وینا اود ټاکنو پر پیلو او پروسی باندی وروستني راپور نشر کړي. د ټاکنود نړیوال څارني ماموریتونه باید هغو اشخاصو سره چې د یو دموکراتیک او رښتینو ټاکنو د رامنځ ته کولو په باره کی تشویش لری وویني تر څو هغوی سره د دوی د ماموریت د موندنو ، نتیجو او سپارښتونه په اړه خبري وکړي. د ټاکنو د څارني نړیواله هیئت کولای شي خپلو دولتي او نورو نړیوالو غیر دولتي موسسو ته ریوټ ورکړي.

8. هغه ټولني چي دغه اعلامیه او د هغې سره مل د ټاکنو د نړیوالو څارونکو لپاره د چلند اصول تائیدوي، تعهد کوي چي د ټاکنو نړیوالي څارني د موریت په سره ته رسولو کې له یوبل سره مرسته وکړي. د ټاکنو نړیواله څارنه په هر ډول ترسره کیدلای شي، د بیلګې په توګه: هغه ماموریتونه چې د نړیوالو څارونکو له خوا په انفرادی ډول ترسره کیږي، د ټاکنو د نړیوالي څارني هغه ماموریتونه چې په مشترک ډول ترسره کیږي، او یا هغه د نړیوالي څارني ماموریتونه چې هم غړي شوي وي. په دغه ټولو یادو شویو حالاتو کې، ملاتړ کونکې موسسی دا تعهد کوي چې په ګډه سره کار وکړي ترڅو د خپلو ماموریت د مرستو کچه زیاته کړي

9. د ټاکنو نړیواله څارنه باید د اړوند هیواد حاکمیت او د هیواد د خلکو حقونو ته په احترام کولو سره ترسره شي. د ټاکنو نړیواله څارنه باید د اړوند هیواد قانون، ملی چارواکو، او د ټاکنو چارواکو ته احترام ولري او په داسي طریقه ترسره شي چې د بشر حقونو او بنسټیزو خپلواکیو ته احترام ولري او وده ورکړي.

10. د ټاکنو د نړیوالي څارني ومموریت باید په فعاله توګه د هیواد د ټاکنو د چارواکو سره مرسته وکړي او د ټاکنو بهیر ته خنډونه را منځ ته نکړي.

11. که یو ټولنه دا پریکړه وکړي چي د ټاکنو د څارني یو نړیوال ماموریت په یو ملك کي په لاره واچوي او یا هم د دغه ډول ماموریت د امکان په هکله څیړني وکړي په هغه ملك کي چي ټاکني پکي تر سره کیږي دا نه جوتوي چي ټاکني د اعتبار وړ دي. یو ټولنه باید د ټاکنو نړیوال څارونکي هغه هیواد ته وانستوي چي د څارونکو خضور هالته د خلکو له خواه غیر دیموکراتیکو ټاکنو ته د مشروعیت وربښلو په توګه تعبیر شي او په داسي حالاتو کي د ټاکنو د نړیوالو څارنکو ډله باید یو عامه بیانیه خپره کړي تر څو خلك په دي پوه کړي چي د هغوی شتون هلته دسي کوم مشروعیت نه رامنځ ته کوي.

12. په ښه او موثره توګه د نړیوالو څارونکو د دندي د سره ته رسیدول په موخه بنسټیز شرطونه باید په پام کي ونیول شي. نو له همدي امله د ټاکنو نړیواله ډله باید تر هغي پوري چي د هغه هیواد له خوا چي ټاکني په کي ترسره کیږي لاندي کارونه ترسره شوي نوي، جوړه نشي:

الف. بلون لیک واستوي او یا د ټاکنو نړیوالي ډلي د حضور لپاره په کوم په ډول رضایت ښکاره کړي، دا کار باید د هرې ټولني د اړتیا سره سم او مخکي د ټاکنو څخه ترسره شی تر څو چي د ټاکنو ټول پړاونه وارزول شي چي دا کار د دیموکراتیکو او ریښتینو ټاکنو د تنظیم لپاره د ارزښت وړ دي.

ب. د ټاکنو نړیوال څارونکو ته بی له کوم ممانعت څخه د ټاکنو ټولو پړاونو او تکنالوزیو لکه الکترونیکي تکنالوجي او د الکترونیکي رایه ورکولو تکنالوزې او داسي نورو تکنالوز ته لاس رسی ورکړي. البته دا کار باید پرته له دې څخه چي د ټاکنو نړیوال څارونکي کوم محرم تړون د تکنالوجي او د ټاکنود پړاونو په اهکله لاسلیک کړي، ترسره شي او د ټاکنو د نړیوالې څارني دنده یا ماموریت ممکن دا تکنالوزي د منلو وړ ونه شیمري.

ج. ټولو هغو کسانو ته چي د ټاکنو په بهیر پورې اړوند دي او د لاندینیو کسانو په شمول د لاس رسی تضمین وکړي

i. د ټاکنوټولو ماموړینو ته په هره سطحه وي، د مناسبي غوښتني پر بنسټ

ii. د مقنني ډلوغړو، دولتي او امنیتي چارواکو ته، چي د هغوی دندې د آزادو او ریښتینو ټاکنو برابرولو سره اړه لري.

iii. ټولو سیاسی ډلو ته، ټولنو ته او هغه کسانو ته چي دوی په ټاکنو کي د سیالي هڅه کړي (په شمول د هغو کسانو چي وړګنړ شوي دي او هغه کسان چي وړګنړ شوي ندي او هغه کسان چي د ګډون څخه یی لاس استلی ). او هغه کسانو چي د ګډون څخه ډډه کړې ده.

iv. خبري رسنی

v. او ټولو هغو سازمانونو او کسانو ته چې په هیواد کې د ریښتینو او دیموکراتو ټاکنو د ترسره کولو مینه وال وي.

د. د ټاکنو د نړیوالې څارنې د چارواکو لپاره په هیواد کې د سفر آزادی تضمین کړي.

هـ. د ټاکنو د نړیوالو څارونکو د ماموریت آزادي تضمین کړي ترڅو هغوی پرته له کوم خنډه خلکو ته د ټاکنو د بهیر او پرمختګ لپاره د خپلو موندنو او وړاندیزونو په اړه خپل عامه بیانات او رپوټونه وړاندي کړي

و. د دې تظمین وکړي چې هیڅ دولتي، امنیتي او یا د ټاکنو چارواکي د ټاکنود نړیوالې څارنې ماموریت ته د انفرادي څارونکو یا د کوم بل غړي د ټاکلو په پروسه لاس وهنه نکوي او د هغو د شمېر د محدودولو هڅه نه کوي.

ز. په مکلمه توګه او د ټول هیواد له خوا څخه د اعتبار ورکوني تضمین وکړي ( د پیژندني او نور داسي اسنادونه چې هغو ته د ټاکنو د څارنې د سرته رسولو لپاره اړتیا لیدل کیږي) دا اسناد باید ټول هغه کسانو ته چې د څارنې لپاره ټاکل شوي دي او یا نور هغه ګډون کونکو ته چې د ټاکنو د نړیوالې څارنې له خوا ټاکل شوي دي وویشل شي تر هغه وخته پوري چې دغه ماموریت د اعتبار د واضع تعریف شوي، منطقي او د تبعیض څخه د خالي ضروریات سره سمون لري.

ح. د دې تضمین وکړي چې هیڅ دولتي، امنیتي او یا د ټاکنو چارواکي د ټاکنو د نړیوالې څارنې په دندو کې لاس وهنه نه کوي

ط. د دې تضمین وکړي چې هیڅ دولتي چارواکي نشي کولای چې د ټاکنو د نړیوالې څارنې ماموریتو په چارو کې مداخله نکوي او

ی. او د دې تضمین وکړي چې دولتي چارواکي د ټاکنو کارکونکي که کورني وي او یا بهرني او یا هغه کسان چې دوې سره مرسته کوي او یا دوی ته د ټاکنود نړیوالې څارنې د اصولو سره سم معلومات ورکوي، ترفشار لاندې ونیسي او یا یی تهدید کړي.

د ټاکنو نړیوالې څارنې دندو د تنظیمولو لپاره د یو اړین شرط په حیث، دولتی او نړیوالې غیر دولتي ټولني امکان لري چې دا اړین وګڼي چې دغه تضمینونه د توافق د سند او یا کوم مشابه سند په بڼه چې دولتي او یا د ټاکنو د چارواکو پر هغه توافق کړي وي بیان شي . د ټاکنو څارنه یو ملکی فعالیت دی، او د هغي ګټې وخت تر پوښتنې لاندې راځي چې جدي امنیتی ستونزي را منځته کوي، د څارونکو محفوظه استونه محدودي اویا د ټاکنو د اعتبار وړ میتودلوجی تطبیق نفي کوي.

13. د ټاکنو د نړیوالې څارنې ماموریت د خپل د شتون لپاره د ټولو مهمو سیاسی سیالانو رضایت ترلاسه کوني ته اړ دی.

14. سیاسی سالی کونکي ( ډلي، کاندیدان او د ټول پوښتنو له لاري د مقامونو حامیان) د ټاکنو د بهیر سره ډېر مینه لري او غواړي چې د خپل حق له لاري وټاکل شي او په دولت کې مستقیم ګډون ولري. له دي

کبله هغوی ته باید اجازه ورکړل شي تر څو د ټاکنو ټول پړاونه، کړنلارې او د ټاکنو په ځایونو کې د الکترونکي شیان، رایو د شمېرلو مرکزونه او د ټاکنود نورو تاسیساتو، د رایو د ورقو او د نورو محرمو موادو لیږد څارنه وکړي.

15. د ټاکنو د نړیوالې څارنې ماموریت باید لاندې کارونه ترسره کړي:

أ. ټولو سیاسي سیالانو سره د ټاکنو په پړاو کې اړیکې ټینګې کړي، او هغه سیاسي ډلود استازو او کاندیدانو سره هم اړیکې ولري چې هغوی احتمالا د ټاکنو د بهیر د صحت په هکله معلومات لري.

الف. هغه معلومات چې د دوی له خوا د پروسې په هکله برابرېږي هغه ته باید ښه راغلاست ووایی

ب. او دا معلومات په خپلواکه او بی طرفه ډول وارزوي.

ج. د ټاکنو نړیوالې څارنې د یو مهم جنبې په توګه، ارزیابی کړي چې آیا سیاسي سیالیکونکي د تبعیض څخه لري د دې جوګه دي چې د ټاکنو د پړاونو او اجزاو د صحت په هکله د حقیق کولو لپاره هغوی ته د لاس رسی حق ورکړل شي. د ټاکنو د نړیوالې څارنې ماموریت د ټاکنو د بهیر د صحت لپاره باید په خپلو وړاندیزونو کې د هغوغیر ضروری محدودیتونو چې د سیاسي سیالانو د فعالیت پر لاره خنډ وي او د سیالانو په فعالیتونو کې لاسوهنو د منځه وړلو پلوی وکړي چې داغه وړاندیزونه به په تحریري او یا په کوم بل ډول سره وړاندې کیږي.

16. د هیواد وګړي نړیوال پیژندل شوی حق لري چې په دولتی او ملکي کارونو کې ګډون او شراکت وکړي. دا حقونه کیدلای شي چې د هغو غیردولتي ټولنو له لارې وکارول شي چې د ټاکنو بهیرڅخه لیدنه کوي او طرزالعملونو په شمول د رایه ورکنو په مرکزون کې د الکترونیکی او نورو تکنالوجیو کارول،د رائ شمېرلو مرکزونونه او د ټاکنو نوروځایونه او د رایو د ورقو او نورو محرمو توکو د لیږد بهیر څاري. د ټاکنو د نړیوالې څارنې ماموریت باید دا وڅیړي او ریپوټ ورکړي چې آیا د ټاکنو کورنې هغه بی اړخه ټولنې چې د ټاکنو بهیر څاري، د تبعیض څخه پرته کولای شي چې خپل کارونه پرته له کومې لاس وهنې او محدودیت څخه سرته ورسوي او کنه. د ټاکنو نړیوالې څارنې ماموریت باید د وګړو د حق څخه ملاتړ وکړي تر څو د ټاکنو څخه بیطرفه کورنې څارنه، بی له کومې لاسه وهنې او محدودیت څخه ترسره کړي او باید په خپلو وړاندیزونو کې د دا ډول لاس وهنې او محدودیتونو له منځه وړل په ګوته کړي.

17. د ټاکنو د څارنې نړیوال ماموریت باید د ټاکنو د څارنې د کورنیو اعتبار وړ بې اړخه موسسو سره منظمې اړیکې مشخصې او ټینګې کړي او د هغوي سره په مناسب دول همکاري وکړي. د ټاکنو د نړیوالې څارنې ماموریت باید هغه معلومات چې د ټاکنو د بهیر په هکله وي او د دا ډول موسسو له خوا برابرېږي، و منې. د هغو معلوماتو خپلواکې ارزونې چې د دغه موسسو له خوا برابر شوي، کولای شي چې د ټاکنو د نړیوالې څارنې د ماموریت د موندنو لپاره یو مهم Complement یا تکمیل کونکی جز وي، او د ټاکنو د نړیوالې څارنې ماموریت باید خپلواک پا تې شي. د ټاکنو د نړیوالې څارنې ماموریتونه له دې امله باید هڅه وکړي چې هرې بیانیه څخه د مخه د دغه ډول سازمانونو سره مشوره وکړي.

18. دولتی او نړیوالې غیردولتي موسسې چې دا اعلامیه او د هغې سره مل د څارونکو لپاره د چلند اصولو څخه ملاتړ کوي په دې باندې پوهیږي چې د رینښتنو دیموکراتو ټاکنو په هکله د معیارونو، اصولو او تړونونو په جوړولو کې مهم پرمختګ او رامینځ ته شوی دی او تعهد کوي چې په خپلو بیانیو کې دغه

ډول اصولو د څارني، قضاوت، او د ټاکنو د بهير د څرنګوالي دپاره وکارول کوي.او تعهد کوي چې د څارني د هغو متودولوجيو او اصولو په اړه، چې دوي ئي کاروي روښانه دريز ولري.

19. هغه دولتي او غير دولتي موسسات چې د دغې اعلاميې څخه ملاتړ کوي په دې پوهيږي چې د ټاکنو د بهير د څارنې لپاره ډول، ډول ميتودولوژۍ (methodologies) شته او دې ته ژمن دي چې په پرمختګونو کې ګډون وکړي او ژمن دی چې ميتودولوژۍ په مناسبت ډول هم غږې کړي. او په دې پوهيږي چې د ټاکنو د نړيوالي څارنې پلاوي بايد د اندازي له پلوه مناسب وي ترڅو وکولای شي چې د يوهيواد د ټاکنو د بهير څرنګوالي په بې اړخه کمسيون او ناپيلي توګه مشخص کړای شي او بايد د بسيا وخت درلودونکي وي ترڅو وکولای شي چې د ټاکنو د بهير ناخوالي د ټاکنو نه د مخه، د ټاکنو په ورځې او د ټاکنو په وروسته پړاونو کې مشخصې کړي. که دغه ياد شوي ټکې موجود نوي، نو بيا يوازې څارنې ته پام اړول کيږي او نو بنآ يو محدود شمير ناخوالي کيدلای شي چې مشخصې شي. او له دې نه علاوه، دوی په دې هم پوهيږي چې د ټاکنو د ورځې پر څارنو بايد ډير تاکيد ونشي، او دغه څارنې بايد د ټاکنو د بهير د ټولو څارنو سره يو ډول وي.

20. هغه دولتي او غير دولتي موسسات چې د دغه اعلاميه څخه ملاتړ کوي په دې پوهيږي چې د ټاکنو د نړيوالي څارنې ماموريتونه بايد هغه کسان چې د ډول، ډول سياسي او مسلکي مهارتونو، شهرت او واقعي امانتدارۍ خاوندان وي ولري تر څو وکولای شي چې د دغو لانديو عباراتو او څيزونو په رڼا کې د ټاکنو د بهير په هکله پريکړه يا قضاوت کوړي چې عبارت دي له، د ټاکنو په بهير او وضع شويو ټاکنيزو اصلولو کې تخصص، د بشر نړيوال حقوق؛ په ټاکنو پورې اړوند قانون او اداري ابزار (د کامپيوتراو نورو تکنالوژيو سره چې د ټاکنو لپاره دي، بلتيا)، اړوند سياسي بهيرونه او د ملک مشخص ملاحظات. تاييدونکي موسسه د د ګډون کونکو په ترکيب کې د جنس د انډول تنوع، د ټاکنو د نړيوالي څارنې په ماموريتونو کې مشرتابه او د وګړو د تنوع په اهميت پوهيږي.

21. هغه دولتي او غير دولتي موسسات چې د دغه اعلاميه څخه ملاتړ کوي دې ته ژمن دي چې:

الف. په خپلو ماموريتونو کې، ټول ګډونکونکي د معلوماتو د صحت، په قضاوت کولو کې د سياسي بې اړخۍ او د پاپلو د اعلانولو د اصولو سره آشنا کړي.

ب. يو د وظايفو لايحه يا هغې ته ورته اسناد چې د ماموريت موخې پيانوي، برابر کړي

ج. د اړوند ملي قوانينو او مقرراتو، سياسي چاپريال او او نورنو موضوعاتو په اړه معلومات برابر کړي چې دغه معلومات بايد د څارونکو د ساتنې او د رفاه مسلي ته هم پام کړی وي.

د. د ټاکنو د څارني په ماموريت کې،ټولو ګډونکونکو ته د هغه ميتودلوژۍ په هکله چې بايد تطبيق شي هدايت وکړي.

هـ. د ټاکنو د څارني په ماموريت کې د ټولو ګډونکونکو څخه دا وغوښتنه وکړي چې د ټاکنو د نړيوالو څارونکو لپاره د چلند اصولو، چې د دغه اعلاميه سره مل دي او ممکن په هغې کې د موسسي د اړتياو سره د سمون په خاطر تغير راوړل شي ،ولولي او تعهد وکړي چې پر هغې عمل کوي اويا تعهد وکړي چې موسسي د چلند پر هغو اصولو چې د مخه موجود دي عمل کوي چې دا کار پخپل ذات کې د اصولو د چلند څخه د پيروي ښکارندوی دی.

22. هغه دولتي او غیر دولتي نړیوالي موسسي چي له دغي اعلامیي څخه ملاتړ کوي، تعهد کوي چي د دغي اعلامیي او د هغي سره مل د ټاکنو د نړیوالوڅارونکو لپاره د چلند د اصولو د شرایطو سره سم عمل وکړي.

په هغو حالوتو کي چي د اعلامیهٔ څخه یوه ملاتړ کونکي موسسه د اعلامیي د روحیې سره سم د ټاکنو د څارني د سرته رسولو په خاطردا ضروري وګڼي چي د اعلامیي او د هغي سره مل د چلند د اصولو له کوم شرط څخه پیروي ونکړي، د نورو ملاتړ کونکو موسسو رغنده پوښتنو ته په دي اړه ځواب وایئ او د غه عمل په خپل عامه پیان کي تشریح کوي.

23. ملاتړ کونکي موسسي په دې پوهیږي چي دولتونه په نورو هیوادونو کي د ټاکنو د څارني لپاره استازي لیږي او دا چي نورې داسي موسسي هم شته چي د ټاکنو د بهیر څخه څارنه وکړي. تائیدونکي موسسي هغه ټولو څارونکو ته چې د دغه اعلامیي سره د ځانګړي هدف پر پنسټ توافق او د دغې اعلامیې سره مل د ټاکنو د نړیوالو څارونکو لپاره د چلند د اصولو اطاعت کوي، ښه راغلاست وائي.

24. دغه اعلامیه او دهغي سره مل د ټاکنو د نړیوالو څارونکو لپاره د چلند اصول تخنیکي اسناد دي او د ملاتړکونکو موسسو د سیاسي غړو (شوراګاني، تولني او یا د رئیسانو مدیره هیئت) اجراآتو ته سره بیره پر دې چي دغه ډول اجراآت د تائید وړ دي، اړه نلري. دغه اعلامیه او دهغي سره مل د ټاکنو د نړیوالو څارونکو لپاره د چلند اصول د نورو دولتي او غیر دولتي نړیوالو موسسو له خواه د ملاتړکولواو تائید لپاره چمتو دي.

تایید او توشیح باید د ملګرو ملتونو د ټاکنوسره د مرستي په دیوان کي ثبت شي.

د ټاکنو نړيواله مشاهده په ګرده نړۍ کې په پراخه پيمانه سره منل شويده.

دټاکنو مشاهده د بين الدول سازمانونو ، نړيوال سازمانونه او اتحاديو له خوا ترسره کيږي دد ی دپاره چی ټولټاکنی پروسه دهيواد دنفوس په ګټه ښه مناسب او دقيق وی چيری چی ټاکنه ترسره کيری اودنړيوالی کميټی په ګټه وی. زياتره دنړيوالی ټاکنی په ريښتينوالی يقينی کولو څارنی پوری تعلق لری او يا هغه څوک چی دنړيوالی ټاکنی دکاردڅارنی يوه برخه وی په شمول د اوږدی مودی او لنډی موديڅارونکی، فيصله کوونکی پلاوی غړی وی، دمتخصصوڅارونکو ټيمونه او لارښوونکی د دی کار بايد دا لاندی لارښونی تعقيب کړی.

**دقانون حاکميت اونړيوالو بشری حقوقو احترام**

ټاکنی د قانون د حاکميت يوه اصطلاح ده، کوم چی د هيواد دوګړو پوری تعلق لری، دهغه چا خپلواکه اصطلاح کومه چی د واک بنسټ او د دولت مشروعيت جوړوی. د وګړو حقوق دادی چی رايه ورکړی او ديوی مودی دپاره وټاکل شی، نړيوال بشری حقوق دادی چی ريښتنی ټاکنه وشی، او دا ديوتعداد بنسټيزو حقوقو او خپلواکی تمرين ته اړتيا لری.

دټولټاکنی څارونکی بايد دکوربه هيواد دقانون دده وګړو احترام وساتی او همدارنګه د نړيوال بشری حقوق بنسټيزو خپلواکيو او ددی وګړو احترام هم بايد وساتل شی.

**دهيواد دقانون او دټاکل شوی شخص دحقوقو احترام**

څارونکی بايد دکوربه هيواد دقانون او دټاکل شوو ا شخاصو دحقوقو احترام وساتی څوک چی دټاکنی پروسی پرمخ وړی او اداره کوی. څارونکی بايد دهيواد حکومتی، امنيتی او دټاکل شوی اشخاصو قا نونی لارښونی پلی کړی. څارونکی بايد دټاکل شوو اشخاصو دنماينده ګانواو نورو ملی مقاماتو احترامانه رويه وساتی. څارونکی بايد هغه څه نوټ کړی که چيری قانون، لايحه او يا ټاکل شوو اشخاصو نماينده ګان دټاکنی دپروسی حقوق نه مراعت کوی ډيربوج اويا خلل اچوی او يا دټاکنی مواد خرابوی.

**دنړيوالی دټولټاکنی څارنی دقانون او دندی ته احترام**

څارونکی بايد دنړيوالی دټولټاکنی دڅارنی قانون او دندی ته احترام وکړی او خوندی يی وساتی پدی کی دالاندی لارښوونی شاملی دی هر ليکل شوی هدايات لکه (ماخذات، لارښوونی ) او لفظی لارښوونه دڅارنی ددندی دمشری لخوا. څارونکی بايد ټول دمشاهدی ددندی اړتيا وړ مجلسونه، ټرينګونو کی شامل شی تر څو د ټاکنی د قانون سره اشنا شی، او نور په هغه څه باندی پوهه شی کم چی دڅارنی دندی پوری تړلی وی او يا ددوی لخوا ورته لارښونه شوی وی. او احتياط سره د ميتدولوژی دنده چی د څارنی ډلی لخوا ورته سپارل شوی سرته ورسوی. څارونکی بايدڅارنی مشرتوب ته راپور ورکړی کيدای شی چی دوی کوم مخالفت يا نامناسب رويه د نورو څارونکو چی ددی ډلی يا دندی يوه برخه ده وی.

**ټينګ سياسی بی تعصبی هر وخت بر قرار ساتل**

څارونکی بايد هروخت ټينګ سياسی بی تعصبی برقرار وساتی داوزګار وخت په شمول په کوربه هيواد کی. دوی بايد هيڅ ډول تعصب دملی مقاماتو، سياسی پارټيو، کاندی دانو، دا رايی وکولو مسايلو نورکوم مسايل چی د ټاکنی پروسی پوری تړلی وی سره ونه ښی. څارونکی بايد داسی يو عمل کوربه هيواد کی ونکړی چی دکومی سياسی سيالی پارټی په ګټه تمام شی لکه دکومی پارټی انتخاباتی سمبول لګول يا اغوستل يا کوم رنګ لګول يا بل کوم داسی يو عمل اجرا کول چی دکومی پارټی په ګټه وی.

**د ټولټاکنی په پروسه کی خند مه اچوی**

څارونکی باید دټاکنی په پروسه کی هیڅ ډول خنډ وانه چوی. په شمول د ټولټاکنو دلومړنی و پروسو ، درایی ورکونی، او دټولټاکنی د نتایجو اعلان پروسو. څارونکی کیدای شی چی بی نظمی، ټګی، یا بل کوم مهم مشکل دټولټاکنی مامورینو ته په میدان کی جوړکړی. لیکن دا په قانون کی منع دی. او دا باید په نه ذنډ اچوونکی رویه باندی سرته ورسوی.

څارونکی کیدای شی چی د ټولټاکنی مامورینو، سیاسی پارټیو نمایدهګانو، او نورو څارونکو چی د رایی ورکوونکو په سټیشنونو کی وی سوالونه وکړی. او کیداشی چی د خپلو کړنو په باره کی ځوابونه ووایی. نو څارونکو ته پکارندی چی دټولټاکنی پروسی کن خنډ واچوی. څارونکی باید مستقما دټولټاکنی پروسی په باره کی ځوابونه ورنکړی. څارونکی کیداشی چی درایی ورکوونکو څخه سوال ځواب وکړی خودوی باید درایی اچوونکو څخه دا ونه پښتی چی دوی کومی پارټی ته درایه ورکړه

**مناسبه پیژندنه برابره کړی**

څارونکی باید هغه پیژندنه چی د څارنی دلی له خوار ورکړل شوی وی وښی او چی کله غوښتنه کیږی نو باید دټاکنو مامورینو اونورو ملی مقاماتو ته یی وښیی.

**دڅارنی درستوالی باید په دقت سره وی او نتایجو په باره کی دماهرانه تکره فیصلی کول**

څارونکی باید په دی باوری وی چی دڅارنی مرحله په پوره دقت سره پرمخ ځی څارنه باید پراخه په پام کی ونیول شی او هیڅ یو مثبت او منفی نماینده یا فکتور او یا دهم او غیر مهم نماینده ترمنځ توپیر وکړی دټاکنو په پروسه او دهغی پشیړتیا باندی مهم تاثیر لری.دڅارونکی قضاوت باید دهغی داعلی معیار او بی طرفه نماینده ګی وکړی او شخصی قضاوت او واقعی قضاوت تر منځ د توپیر ښوونکی وی. دڅارنی ټول نتایج باید ریښتینی او مستند ثبوت په بنا وی نه دا چی دوخت څخه مخکی او نا سم وی.

څارونکی باید دخپلو څارنو یوښه منظم ریکاټ ولری ترڅو وشی کولای چی کوم ځایونه یی چی څارلی دی. هغه څارنه چی شوی او نور هغه اسناد چی دڅارنی کمیسو له خوا غوښتل کیږی باید په هماغه شکل تهیه شی.

**څارونکی باید دعامه وګړو په مقابل کی انتقادی او تشریحی ویناوو څخه ډه ډه کړی**

څارونکی باید د خپلو څارنو په باره کی دکومی تبصری یا انتقاد څخه ډه ډه وکړی او یا د ټاکنو د نتایجو په باره کی د عامه وګړو او رسنیو په مقابل کی دکومی پای د اعلان څخه ډه ډه وکړی مخکی ددی څخه چی دټاکنو دڅارنی کمیسون کومه نتیجه اعلان کړی وی او یا ترڅو پوری چی ورته دټاکنو د څارنی کمیسون لخوا کوم هدایت وشی.

**دټاکنو دڅارونکو سره په ګډه کار کول**

دټاکنو مشاهدین باید دنورو مشاهدینو خبر وی که هغه خارجی مشاهدین وی او که داخلی او دټاکنی مشاهدې او د ټاکنو د مشاهدې د پلاوې د لارښوني سره سم ورسره همکاري وکړي.

**د سمو اخلاقو لرل**

مشاهدین باید د سمو اخلاقو لرونکي وي او د نورو درناوی وکړي، همدارنګه باید غوره شخصي رویه وکړي، په شمول ددې چې د کوربه هیواد د حساسو دودونو او کړو وړو سره به په ښه توګه چلند کوي، او په هر وخت کې به په لوړه کچه مسلکي رویه لري، ان تردې چې په فارغ وخت کې هم.

د چلند ددغو اصولو څخه سرغړونه

په هغه صورت کې چې د چلند ددغه اصولو څخه د سرغړوني اندیښنه موجوده وي نو د ټاکنو د مشاهدې پلاوی به پدې اړه یوه څیړنه ترسره کوي. که چیرې د مشاهدینو له خوا کوم د کوم ډول سرغړوني بیلګه ترسترګو شي نو د ټاکنو د مشاهدې پلاوی به د نوموړي مشاهد څخه اعتبار ساقطوي او هغه به د مشاهد کیدو څخه خارجوي. ددې ډول کار اختیار یواځې د ټاکنو د مشاهدې د پلاوې په لاس کې دی.

د چلند ددې اصولو د منلو وعده

هرشخص چې ددغو ټاکنو د مشاهدې په پلاوي کې ګډون کوي، باید د چلند دا اصول ولولي، وربانديې پوې شي او د پلي کولو وعده يې لاسليک کړي.

# د ټاکنو د نړیوالو مشاهدینو
# د چلند د اصولو سره
# د یوځای کیدو ژمنه

**ما د ټاکنو د نړیوالو مشاهدینو د چلند هغه اصول چې د ټاکنو د مشاهدې د پلاوي لخوا راته راکړل شوی، ولوست** او وربانديې پوي شوم. نو له همدې کبله وعده کوم چې د چلند د اصولو ته به د یو مشاهد به توګه غاړه ږدم او خپل ټول کړه وړه به د نوموړو اصول سره سم برابروم. د چلند د اصولو په پلي کولو کې زه هیڅ راز سیاسي، اقتصادي یا کوم بل ډول مخالفت نه لرم او نه کوم بل داسې څه شته چې د همدغو اصولو په پلي کولو کې ما د یومشاهد په حیث د خپلې بې پرېتوب څخه مخنیوی وکړي.

**زه به په هروخت کې ډیر په ټینګ سره خپله سیاسي بې طرفي خوندي وساتم. زه به خپلې پریکړې د سموالي او د** معلوماتو د کره توب او د بې طرفه تحلیل پر اساس ترسره کړم، پداسې حال کې چې شخصي فکتورونه به د معقولو شواهدو څخه جلا وساتم او خپلې ټولې پریکړې به د واقعي او سمو شواهدو پراساس اودروم.

**زه به د ټاکنو د بهیر خنډ واقع نشم. زه به ملي قوانینو ته غاړه کیږدم او د ټاکنو د چارواکو درناوی به کوم. او د** ټاکنو او نورو ملي چارواکو ته به په درنه ګورم. زه به په هیواد کې د بشر د حقوقو درناوی او هغو ته به پرمختګ ورکوم همدارنګه د خلکو بنسټیزې آزادۍ په په پام کې نیسم. زه به غوره شخصي رویه کوم او د نورو درناوی به کوم، په شمول ددې چې د کوربه هیواد د حساسو دودونو او کړو وړو سره به په ښه توګه چلند کوم، او په هر وخت کې به په لوړه کچه مسلکي رویه لرم، ان تردې چې په فارغ وخت کې هم.

**زه به د ټاکنو د نړیوالې مشاهدې د پلاوي بشپړتیا خوندي ساتم او د مشاهدې د پلاوي لارښوونې به تعقیبوم.**   زه به په ټولو لازمو ناستو، د لنډ معلوماتو ورکولو ناستو، روزنو او د پوښتنو په ناستو کې ګډون کوم. کومې به چې د ټاکنو د مشاهدې د پلاوي لپاره اړینې وي، همدارنګه زه به د بیانیو غوښتل شویو راپورونو په جوړولو کې مرسته کوم. زه به رسنیو ته د ټاکنو د مشاهدې د پلاوي د بیان څخه مخکښې د شخصي تبصرو، نظرونو یا پریکړو د ورکولو څخه ډډه کوم. مګر په هغه صورت کې زه کولاي شم چې رسنیو ته د څه په اړه معلومات ورکړم چې د مشاهدې د پلاوي له لوري په مشخص ډول لارښوونه راته وشي.

لاسلیک ____________________

چاپي نوم ____________________

نیټه ____________________

## ســـتاینـــې

د ټاکنو د نړیوالي مشاهدې د اصولو اعلامیه او د ټاکنو د نړیوالو مشاهدینو لپاره د چلند اصول د ډېرو کلونو په اوږدو کې رامنځته شوی بهیر دی چې د نړۍ د 20 څخه زیاتو بین الدول او نړیوالو نادولتي سازمانونو چې د ټاکنو د مشاهدې په چارو کې ښکېل دي، پکښې برخه اخیستې ده.

نوموړی بهیر په 2001 کال کې په غیر رسمي ډول د ملي ډموکراتیک انستیتیوت (NDI)، د ملګرو ملتونو د ټاکنو سره د همکارۍ څانګې (UNED)، او د یوې ناستې په ابتکار سره پیل شو، چې نوموړې ناسته د ملګرو ملتونو به دفتر کې په نیویارک کې ترسره شو چې کوربه توب یې OAS او NDI په غاړه لرل.

د نوموړي بنسټ د جوړولو لپاره د ملګرو ملتونو د ټاکنو سره د همکارۍ څانګې (UNED)، د کارتر مرکز (Carter Center)، او د ملي ډموکراتیک انستیتیوت یو ګډ دارالانشاء جوړ کړ او د بهیر رسمي مرحله یې په 2003 کال کې د اتلانتا ښار د کارتر په مرکز کې د یوې رسمي ناستې په ترڅ کې ترسره کړ. له دې وروسته په همدې اړه په 2004 کال کې په بروکسل کې یوه ناسته ترسره شوه چې اروپایي کمیسیون یې کوربه توب په غاړه لرل. د ګډون کوونکو سازمانونو ترمنځ یو روان مشورتي بهیر جوړ شو چې په پایله کې د هوکړې یو سند رامنځته شو چې د سازماني تایید لپاره وړاندې شو چې پیل یې د 2005 کال د جولاې ؤ.

نوموړی دارالانشاء د لاندېنیو اشخاصو څخه تشکیل شوی ؤ: د ملګرو ملتونو د ټاکنو سره د همکارۍ څانګې (UNED) څخه د کارینا پرل Carina Perelli او سین دوني Sean Dunne ، د کارتر مرکز څخه د ډیوید کارول David Carroll او ډیوید پوټایDavid Pottie او اوري ډاوس رابرټ Avery Davis-Roberts څخه او د ملي ډموکراتیک انستیتیوت څخه پاټریک میرلو او لنډا پټرسن Patrick Merloe & Linda Patterson.

د دارالانشاء غړو نوموړي سندونه له میرلو (Merloe) سره چې د لومړي طرح کوونکي په توګه کار کوي، چمتو کړ، چې د اوسني اسنادو یوه مهمه برخه د هغو سازمانونو څخه ترلاسه کوي کوم چې د ټاکنو په څارنه کې ښکېل دي. د بهیر په مهال دارالانشاء د ډېرو ګډون کوونکو سازمانونو څخه د پام وړ معلومات او سپارښتنې ترلاسه کړې.

د بهیر ملاتړ د ملګرو ملتونو، د امریکا د متحده ایالاتو د پرمختیایي اداري (USAID)، اروپایي کمیسیون، د المان جمهوریت او د سټار بنسټ لخوا او همدارنګه د یو شمیر نورو انفرادي بسپنه کوونکو لخوا کېدل.